# زما ارمان

## د شعرونو ټولګه

## نقیب احمد اتل

د کتاب چاپ ټوله حقوق د خپروونکي او د انلائن حق ئې یوا ځي د
سمسور پاڼي سره محفوظ دي

# دا سړی...

یو بې کسه سړي د دې زمانې د منځني عمرنېږدې نیمایي لار وو هله، هغه شاته ډېرې لوړې ژورې پرېښودې، په لوړو ژورو او د جګړې له اوره په سرو لارو یې په ځان پسې ټول پلونه په خپلو اوښکو وران کړل...

هغه لکه چې نه یې غوښتل د ژوند په دې سرو لارو یې څوک پسې په پلونو راشي، خو (په ژوند کې هرڅه د انسان په زړه نه کېږي) دې لاروي که څوک د ژوند په لارو پرېښودل، وروسته یې په هغو پلونو، چې ده په اوښکو ورانول، ګلونه راوټوکېدل.

دی، لکه څوک چې د وچو دښتو او غرمو له مزلونو د شنو ونو سیوري ته د دمې په تمه روان وي، هغه چې نېږدې ده د ځمکې د سر په ازموینو کې د بایللي ژوند د بېرته ګټلو له امله خپله اتلولي ونمانځي، هم یې د سخت ژوند کیسې د خلکو له یاده نه دي وتلي...

...یو څوک له بلې سره په لاره دربېږي، د دوی له ځنګه د سختو لارو ستړی تېرېږي، د لاروي په لیدو هغوی ته د لاروي د ستړي ژوند ټولې کیسې وریادېږي، یوه بلې ته وایي:
څومره په ګرانه یې له اوښکو سره شپې سبا کړې
د خوار اتل د اوبو وړي ژوند خبره کوم

اتل په همدې يو بيت کې يوازې د خپل سترې ژوند انځور نه دی جوړ کړی، هغه په يوه انساني ټولنه کې يو بل سره د هغې خواخوږۍ کيسه کړې، چې اوس يې ځای په داسې حالاتو کې د يو چا په ليدو خوښۍ نيولی.
اوسني خلک که په يو کلي کې سره ژوند کوي او که په ښار ـ بازار کې راټول دي، په ژوند کې د لوېدلي سړي په حال خوښي ښکاره کوي او که کله همدا لوېدلی سړی د ژوند په سترياوو کې اتلولۍ ته رسېږي، دوی پرې خواشيني کېږي.
اتل چې په دې شعر کې د خلکو ترمنځ د خواخوږۍ پخوانی ياد خوندي کړی، دومره ژوندی انځور دی، چې په لوستو يې په هغه ژوند پسې زړونه خوږېږي.
اوس ژوند داسې نه دی، اوس به خپله بده ورځ له دې امله پټوئ، چې بده ورځ مو د نورو خوښي ده او همداسې به مو ښه ورځ ځکه نه ښکاره کوئ، چې د پرنېږدې خلک به مو د دې ورځې په ليدو خواشيني شي، بيا به داسې نه وي، لکه اتل يې چې وايي، بلکې د دوو له څنګه په تېرېدو به داسې خبرې واورئ:
پرون له پښو لوېدلی و، نن بيا په پښو ولاړ دی
دا دومره چې لوړ شوی دی د چا په پښو ولاړ دی

خو د دې زمانې په انساني ټولنه کې په تېرو کيسو پسې د زړونو ترل ډېرځه په لاس نه راوړي، هغه وخت که خوا خوږي وه او که اوس رخه او بدبيني ده، نه د چا غم کمولی او

نه يې ډېرولی شي، د دې حالت پر وړاندې داسې غبرګون پکار وي، چې غم پکې له غمځپلي وشرمېږي.
اتل بلد يمه د غم له تيند کونو سره
د ژوند په ګرانو لارو ډېر ستړی ستومانه ښه يم
اتل چې د همدې ټولنې په منځ کې دی، په سختو لارو د بلدتيا او د خپلې اتلولۍ خبره په داسې نيت کوي، چې که څوک پرې خوښ نه وي، د هغوی زړونه هم نه ماتوي:
ما ډيلی نه دی فتح کړی زه اتل نه يمه
له ډېرو سختو بدو شپو نه راوتلی يمه

د دې سرې ټولې کيسې له غمونو او دردونو جوړې دي، دی تر دې بريده له خپلو غمونو او دردونو سره بلد دی، چې که اوس کم شوي هم دي، نه غواړي هغه هېر کړي.
دا سړی د غم په نه هېرولو ګرم نه دی، ځينې دردونه او غمونه که په چا په ډېر کم عمر کې تېر شي، هغه دومره زورور وي،

دومره درانه وي، چې د عمرترورورستیو د سړي د ملاماتۍ سبب وي.
د اتل په شعرونو کې دې ته ډېرارزښت ورکول کېږي، چې نه غواړي د ژوند له سختیو خپله ستړیا ښکاره کړي، دغه ډول بېلګې پورته یادې شوې، چې هغه پکې ان د غم لاندې کولو هڅه کړې ده.
دا وروستۍ خبره هم ډېره مهمه ده، لوستوونکو ته پکې له هر ډول حالاتو سره د جوړښت فکر وړاندې شوی، دا سې یو حقیقت، چې که زړه څومره وران وي، باید د ژوند کولو په نیت ودان وشي او خپل ژوند د نورو لپاره ضرور وګڼل شي.
هغه وروستۍ خبره په دې لاندې شعر کې ځای کړل شوې، د مخه ښې په غوښتلو مو همدې او په دې ستړي سړي ( زما ارمان ) نورو شاعرانه شېبو ته پرېږدم.
دا سړی په صورت روغ په زړه رنځور دی
خو څه وکړي ژوند ناکام دی ژوند ضرور دی
مننه

حیات الله ګهیځ
۱۳۹۲
د غبر ګولي نهمه

# اتل شاعر

اتل دغمونو او دردونو پروړاندې دهغه کړېدلي
انسان نوم دی چې دژوند په لالهانده او نااعتباره بېړۍ کې
يې دسترېاوو، دردونو، غمونو او ناهيليو تر اخه زهر وته
دارمانونو د پوره کېدا دشاتو په تمه شونډې وړاندې
کړي، کلونه کلونه يې دخوږو په تمه داميد غوټۍ
ښکلولې، خو سپړل شوې نه دي، ديوه ناهيلي ماليار په
څېر يې تل دخپل ګلبڼ مړاوو او رژېدلو ګلانو وجود ته سلګۍ
وهلي او دزړګي بلبل يې دخپلې معشوقې ګلاب، بېلتون ته
لېپې لېپې اوښکې تويې کړې دي، درنځورزړګي رنځونو ته يې
کلونه کلونه هم درغېدو درمل پيدا نه شو، لا يې
دخپلو ارمانونو دنيا نه وه ودانه کړې چې دپايښت ستايوا له
او دخوشحاليو ترجمانه دزړګي دخوشحاليو ملکه يې
درنځورۍ زولنو وتړله، اتل لا هم دژوند دغونا خوالو سره په
مبارزه کې بوخت ؤ، چې دهيلو غوټۍ يې وسپړېدې، فرهادي
عزم يې دبهستون په سوري کولو سره دشيرينۍ مينه خپله
کړه، نقيب احمد ((اتل)) لا دمينې ښا پېرۍ سره دقاف کيسې
کولې چې دموربې بې له عظيمې غبرې څخه بې برخې
شو او دمرګي ترابان يې دمورسيورۍ له سره لرې کړ، ده

فکرکاوه چې نوربه د مرګي دیوان یې په غمونو ماړه شوي وي
خو د استاد ناګار پروینا:
سترګې مو لا وچې دا قصې له سترماتم نه وې
بیا پربل چنګېز وخت اوزمان را سره وژړل
اتل په خپله هره مصرع او هر بیت کې دژوند له ناخوالو اوبې
کسۍ څخه ژاړي، دخوښیو او هوساینې په اړه یې دزړه ډاډ په
هیڅ ډول د شعر په لمن کې نه لیدل کېږي، نو پر همدې اساس
ویلی شو چې اتل دزوربدلي ملت هغه زوربدلی او درد بدلی
لوی شوی ځوان دی چې د شعر هره کلیمه یې دیوه مظلوم
او ناهیلي انسان دغوښتنو ترجماني کوي، شاعري یې خورا
ساده د شعر او ادب له خوږو برخمنه ،د فنونو په خم کې رنګینه
شوې ده، یونیم ځای په کې شعري فورمونه هم ذکر شوي دي
چې ددې ډول شاعرۍ پنځول دده پرلوړ استعداد باندې
دلالت کوي، شعر یې خورا خوندور او زړه راښکونکی
دی، لوستونکي یې په لوستلو هیڅ ډول ستړیا نه
محسوسوي او که دده شاعري دهمده او یا هم دکوم بل ترنم
کوونکي په سوزنده او خواږه غږ کې واورېدل شي، نوبېشکه
چې ډېر کاڼي زړونه به هم وژړوي.
اتل لا دارمانونو ددنیا غمونو سره خدای په اماني نه وه کړې،
چې دهیلو غوټۍ یې هم ورژېده اود جانان سور شال یې هم

دلحد سپين رنګ خپل کړ،دامهال اتل يوازې ديوه مهربانه
اوډاډمن پلار ترسيوري لاندې شپې اوورځې تېرولې،بې
موره اتل لکه مات وزرې مرغۍ چې هرې خواته
دهيلوسترګې غړولې،دوزرونوپرهرونوبه يې له خولې
څړيکه راوويستله،څړيکې يې لامترنمې شوې نه وې چې
دمرګي بي باون يې پر کوربل بريد وکړ،دغم په
تېروغشيويې په سينه وويشته اوپلاريې هم دبېلتون په لوی
اونه خلاصېدونکي سفرلاړ.
دکړلېچونوهمدا مزلونه وو چې اتل يې دسوزوګدازپرېوه
داسې خوږ لحنه بلبل بدل کړ،چې دغږ ازانګې يې دزړونو په
ناونوکې بدرګه شوې،زخمي زړونوته يې دمرهم بڼه غوره
کړه اوپه خپل مترنم غږ يې مينواوغمجنو زړونوته لاره
پيدا کړه.
له نن نه شاوخوا درې څلور کاله وړاندې ما به چې هرکله
دکليدراديواورېدله نوترخبري سرويسه وروسته مې دترنم
ماښام خپرونه اورېده ، دې خپرونې په ننګرهارکې دکليد
راډيولپاره خوراډېراورېدونکي پيدا کړي وو ،داخپرونه هم
دښاغلي اونازولي اتل په کوربه توب خپرېدله چې ډېری
ترنمونه به دښاغلي سراجي،جعفر((الماس))اوپه خپله دااتل
صاحب وو ،دده هرترنم به ددردونواوسوزونوترجماني

کوله، په خپل معجز غږ به یې ویده زړونه په خوځښت
راوستل او د کیف مالګه به یې پرې ودوړوله.

څه مستۍ وې شور ماشورؤ ټنګ ټکورؤ
څه توده وه څه خوږه وه دد سمال شپه
څومره مینه وه ګیلې وې او کیسې وې
څه په منډه منډه لاړه دوصال شپه

دغه مهال نازولی اتل یوازې د خپل رب جل جلاله دربارته
د هیلو سترګې نیولې وې او نورېې د سرسیوري شتون نه
درلود ،نوځکه یې شاعري هم سوزنده، دردونکې
دناهیلیواوپرهرژلودردونوجرس دی.
د پښتو کلاسیکې یامنځنۍ دورې پیاوړي اونازکخیاله
شاعر عبدالحمید((مومند ))خوهسې شعر ته دزخمي زړه
دخوناب پېژند نه دی کړی، دشعر یوښه پېژند هم همدا
کېدای شي چې شعر دزخمي زړه خوناب دی اوهسې الفاظ نه
دي چې څوک یې له خولې څخه وباسي، هرڅه دیوې اغېزې
پربنسټ پنځول کېږي، ای کاش چې نازولي اتل په خپل
ژوندکې داناخوالي نه وای لیدلی چې دا شاعري یې هم
دومره سوزنده نه وی.

حسن دی ستا د پېغلتوب ملګری
غم دی زما د زلمیتوب ملګری
زه توري شپې په شو ګیرو رڼوم
تا سره دی د ځوانۍ خوب ملګری

،،،

ستا له مالت نه چې راتلم ژړېدم
بېنوا راغلم دردېدم ژړېدم
هغه ساعت مې هېڅ له یاد نه وځي
ګرانې له تا چې بېلېدم ژړېدم

پورتنیو بیتونو ته ورته ډېر نور بیتونه شته چې د اتل په اتله شاعرۍ کې لیدل کېږي، چې که دلته یې زه له هرډول اوهرې بېلګې څخه یادونه وکړم نو کېدای شي چې موضوع را څخه ډېره اوږده شي.

ځړیکې وهي مات زړه مې هغه پسې نارې وهي
درد دې راته پرېښوده درمان دې رانه واخیسته

داتل دزړه د جرس غږونه دده په یوه خوږه ټپیزه کې لولوچې دنیستۍ او بې کسۍ په ویرکې د ستر ګونرګس هم مړاوي کړي او په چغو چغو داسې له بې کسۍ څخه ژاړي:

ګرانه جانانه !غریبي ده
ژوندون دی ګران عبث خواري ده
څه وکړم ډېره بې وسي ده
یو خوانیستي بل بې کسي ده
نیستي خوښه ده بې کسي مې ژړوینه

د اتل دغمونو د داستان یوه بله بېلګه د اسې لولو:

مړې مړې اوښکې تویوه راپسې ژاړه
نورمې کډه له نیمګړې دنیا لاړه
لاس دې راکړه خدای په امان زه درنه ځمه
خپـل مـرګي ته یم ولاړ د ګور پر غـاړه

ښاغلي اتل د خپلې مور ارمانونو د خاورې کېدو په ویرکې
د زړه قمري دا ډول چغوي:
چې د ژوند ښایسته کعبه ده مورمې نه شته
څه بې خونده زمانه ده مورمې نه شته
وخت رقم رقم کانې راباندې وکړې
نا اشنا غوندې کیسه ده مورمې نه شته
اوس مې ټوله زندګي په غم لړلې

چې د غم را باندې شپه ده مورمې نه شته
چې ژوندی وه په دعایې ښادا و یاد وم
اوس دژوند تللې مزه ده مورمې نه شته
اتل چغې وهي مورې !مورې ! څه شوې؟
مورمې مړه ده مورمې مړه ده مورمې نه شته

د اتل دې سوزندې شاعرۍ خوزمادزړه هغه ټکورشوي
پرهرونه بیا تازه کړل چې د خپلې
زهیرې، ستایوالې، ارمانجنې او مهربانې مورپه مړینه مې
زړه پرې ژوبل شوی ؤ ،دده دزړه هره چیغه مې د خپل زړه چیغه
احساس کړه او داسې مې وګڼله چې دا ټوله شاعري په تېره
دا وروستی شعر یې چې خپلې مورجانې ته یې لیکلی دی،
لکه چې زما دزړه په غوښتنه شوې وي.
شعر هغه دی چې د احساس،عاطفې،تخیل او پیغام اهنګین
ترون ولري نو قضاوت تاسې ته پرېږدم چې د اتل دا اتله
شاعري څنګه له دې جوهره لرې پاتې کېدای شي؟د شعریت
ټوله پانګه په دې شاعرۍ کې موجوده ده او تر ټولو لویه
ځانګړنه یې دا چې اغېز یې ډېر تېز دی او ژرلوستونکي او
اورېدونکي تر اغېز لاندې راولي.
نور نو دا تاسې او دا مو د اتل انسان دا اتلولي.

# غزلې

د پښتون په کور کې جنګ دی، ژوند بدرنګ دی
ژوند بدرنګ دی، ژوند بدرنګ دی، ژوند بدرنګ دی

سوځېدلي قرانونه پاڼې پاڼې
د خدای کور په وینو رنګ دی،ژوند بدرنګ دی

هر انسان د خپل قسمت له لاسه ژاړي
زندګۍ پورې په تنګ دی، ژوند بدرنګ دی

لا تر څو به د پردیو لاس ته ناست یو
ګل وطن مې سم ملنګ دی، ژوند بدرنګ دی

بس اتله بدبختي د پښتنو ده
ورور له ورور ځنې په ثنګ دی،ژوند بدرنګ دی

بس دی را ځئ چې نوره سوله وکړو شر نه کوو
نورې خبرې د ټوپک او د سنګر نه کوو

د زړه پر پاڼو به د یو بل تصویرونه کاږو
بتان به نه تراشو کارونه د اذر نه کوو

تل مو د هر چا په وعدو باندې باور کړی دی
سړی به ګورو په هر چا باندې باور نه کوو

د ګټې کار ته مو ټول عمر اشرونه کړي
اشر به غواړو خو جنګونو له اشر نه کوو

اتله نور به ګام په ګام د مینې تخم شیندو
د زړه پر زمکو باندې نور د نفرت کر نه کوو

ما ستا وصال ته بلا ډېرې شوګېرې وکړلې
تا مې ارمان قتل که، تا مې تماشې وکړلې

باور دې وشه چې له ځانه ډېر په تا زهیر یم
تا ته دعا مې وکړه ځان ته مې ښېرې وکړلې

تا دې خپل زړه ته دا زما د زړه کیسه ونه کړه
ما هر سپرلي ته ستا د ګل حسن کیسې وکړلې

اوس مې د هېچا په وعدو باندې باور نه راځي
چا وعدې ماتې کړې او چا ډېرې وعدې وکړلې

اتل هر ګام په ترنم ترنم وستایلې
اتل د زړه له درده تا پسې ټپې وکړلې

یوې حسینې مې د زړه په کور کې کور جوړ کړی
زما د زړه پر دیواله یې خپل انځور جوړ کړی

هغه زما د زړه د درد کیسه هر چاته کوي
هغې له مانه اوس د خپلو سترګو تور جوړ کړی

ما ځوروي ما کړوي ما خوب ته کله پرېږدي
دا ستا یادونو مې په خیال کې بلا شور جوړ کړی

له شوګیرۀ کې خوبولې خوبولې سترګې
ګلاب ګلاب لمبه لمبه شونډو یې اور جوړ کړی

چې نه دې ګل که نه دې خپل که تومتي شو هسې
ګرانې اتل ته دې د ټول کلي پېغور جوړ کړی

تل مې په سترګو کې غړېږې چې يوازې شمه
په خوږ زړګي مې راوربږې چې يوازې شمه

وسه مې وکړله چې تا له ياده وباسمه
څه وکړم هېڅ مې نه هېرېږې چې يوازې شمه

کرۍ شپه ويښ يمه دا ستا له غمه خوب نه راځي
مخته مې سورې کېږې چې يوازې شمه

د تورې شپې په تروږمۍ کې دې يادونه راشي
لکه سپوږمۍ راته ځلېږې چې يوازې شمه

خداى خبر ګرانې چې دا زه به درياد يږم که نه
خو د اتل ډېره يادېږې چې يوازې شمه

د ارمانونو لوی دریاب دی زړه مې
د عشق له درده په عذاب دی زړه مې

پام کوه وبه ژاړي مه يې لوله
سم د غمونو يو کتاب دی زړه مې

که پاني پاني شو ازار به وکړي
ګوره نازک لکه ګلاب دی زړه مې

تل پکې ستا د مينې ذکر کوم
لکه جومات لکه محراب دی زړه مې

اتله ثه وکړمه نه پوهېږم
په چا مين خانه خراب دی زړه مې

چې کله ځانته شمه ځان سره ښه وژاړمه
سپېره قسمت سوي ارمان سره ښه وژاړمه

زه داسې یمه لکه ستوری له مداره وتی
سپوږمۍ ته ګورمه اسمان سره ښه وژاړمه

بس دی په خپله بې وسۍ باندې مې د ېر وژړل
ځمه ورځمه چې جانان سره ښه وژاړمه

درده تر څو به مې د زړه په زخم خوله لګوې
لږ څو کرار شه چې درمان سره ښه وژاړمه

اتله ځوک شته په یو چا باندې مې زړه خوږېږي
د زړه په کورکې یو انسان سره ښه وژاړمه

بیا ناجوړه ده سپوږمۍ سپوږمۍ خپه ده
تکه سپینه لیونۍ سپوږمۍ خپه ده

مور مې ویلی سپوږمۍ بیا تندر نیولې
خدای ته وبه کړو زارۍ سپوږمۍ خپه ده

د نړۍ له انسانانو یې زړه موړ شو
ځانته اچوي زندۍ سپوږمۍ خپه ده

ګرانې څه چې توره شپه توره تیاره ده
بیا به شوغاړه غړۍ سپوږمۍ خپه ده

رڼو ستورو ته وریځو غېږې ورکړې
راخوربږي تروږمۍ سپوږمۍ خپه ده

همداسې ښه یمه بې یاره بې جانانه ښه یم
داسې بې مینې ښه یم داسې بې ارمانه ښه یم

شېخ او زاهد که د ریا په سمندر کې ډوب دي
زه بې سجدې ښه یم بې زهده بې ایمانه ښه یم

نور مې د زړه پر کرونده د مینې کرنه کوم
لکه للمې زمکه بې کښته بې بارانه ښه یم

د ښکلو ښکلو منتونه په سر نه شم وړلی
یوازې ښه یمه همداسې بې احسانه ښه یم

اتل بلد یمه د غم له تیندکونو سره
د ژوند په ګرانو لارو ډېر ستړی ستومانه ښه یم

اخ ! دا څنګه ژړاګانې راپسې دي
د مور مړو اروا ګانې راپسې دي

زه وېرېږمه ژوند لويه هديره ده
توري توري بلاګانې راپسې دي

دا څه وشول او د چا مينې بدنام کړم
چې د خلکو خنداګانې راپسې دي

سپينې شمې ستا د مخ اور اورکي يم
په تورتم کې رڼاګانې راپسې دي

چې اتل شومه په هر ډګر بری ورم
د تور سرو دعاګانې راپسې دي

بیا اختر شو خپل ارمان ته غاړېوځم
یو څوک شته دی په ما ګران ته غاړېوځم

سږنی اختر پښتو غیرت پرېږدمه
مرور دی خوږ جانان ته غاړېوځم

صدقه دې له خیرنو جامو یاره
ستا ریښې ریښې ګرېوان ته غاړېوځم

د بې دینو سره پل نه ږدم په لاره
مسلمان یم خپل ایمان ته غاړېوځم

له اتل نه لمر سپوږمۍ دواړه خپه دي
ډک له ستورو سپین اسمان ته غاړېوځم

نوم دې د قران له تورو جوړ دی څومره ښکلی دی
زړه دې مسلمان دی د کعبې غونډې سپېڅلی دی

وو ایـه جانانـه پـه ایمـان یـې وو ایـه
تـا دې دا پښتون زړګی پـه چا بانـدې بـایللی دی

وایـي چې دا ستا ومـه دا ستا یمـه او ستا بـه یم
مـا تـه یې پـه خپلو ګوتـو داسې خط لیکلی دی

وایـه کنـه ګرانـې لـه دې کـاره دې مطلب څـه دی
څنګه دې زمـا تصویر خپـل زړه پـورې نیـولی دی

وبښـه اتـل د تـل لپـاره هېـره کـړې یـې
مـا د خپـل زړګي لـه پـاڼې ستا تصـویر تـوږلی دی

په قراره چېرته به يې څنګه به يې؟
خوږه ياره چېرته به يې څنګه به يې؟

راشه کنه ستا په تمه ناسته يم
څه شوې خواره چېرته به يې څنګه به يې؟

بيا مې په کجلو سترګې تورې کړې
ستا لپاره چېرته به يې څنګه به يې؟

اف غربت له کوره مسا پر کړلې
ګرانه پلاره چېرته به يې څنګه به يې؟

نور دې انتظار په سترګو ړوند کړمه
څارم لاره چېرته به يې څنګه به يې؟

چې په هر قدم ژړېږو زه او ته
دا په کوم ځای کې اوسېږو زه او ته

راځه لرې له دې چم نه چرته لاړ شو
له یو بله به ځارېږو زه او ته

ته سپوږمۍ یې او زه ستوری د سبا یم
دواړه ښه سره جوړېږو زه او ته

دا د عشق د لیونو بنګو مستي ده
لیونۍ لیوني کېږو زه او ته

اتل تل د داسې ورځې په ارمان دی
چې په مینه نه مړېږو زه او ته

زه يوازې شوم بې موره مور مې مړه شوه
په خپل کور کې شوم بې کوره مور مې مړه شوه

اوس به څوک راته په ښکلې ژبه وايي
ځار قربان د سترګو توره مور مې مړه شوه

پرېږده پرېږده چې دا زړه مې پسې وچوي
کړم ژړا په زوره زوره مور مې مړه شوه

بيا به څوک نو لپې لپې راته وکړي
دعاګانې په سرتوره مور مې مړ شوه

د اتل ښايسته ځواني خاورې ايرې شوه
زندګي مې شوه بې شوره مور مې مړه شوه

په لاره ځم په بسم الله باندې هر ګام اخلم
زه و برېدلی یمه هر قدم په پام اخلم

ما ته مې مور په لپو لپو دعاګانې کوي
زه له تور سرو نه دعا سحر ماښام اخلم

زه په محفل کې اوس هر ښکلي ته سلام نه کوم
زه په هر ځای کې اوس د هر بد رنګ سلام اخلم

ما ستا له حسن نه جانانه شاعري زده کړې
هر یو غزل ته ستا له سترګو نه الهام اخلم

اتل د مینې په مکتب کې بریالی شو داسې
چې اوس له خپله یاره سرې شونډې انعام اخلم

يو څوک مې يادوي هره شېبه په تناره
ماښام په تناره، هره غرمه په تناره

نن بيا پېغلې راټولې شوې د کوز کلي په منځ کې
هر څوک کوي د خپل مين کيسه په تناره

لمبه لمبه ښکلا ته يې لمبه ګوته په خوله شي
له سرو شونډو يې خېژي سره لمبه په تناره

دا ستا جادوګر غږ له زړه نه پورې ورې وځي
چې کله کله وکړې زمزمه په تناره

ربښتيا که درته ووايم اتل هلک مې خوښ دی
همزولو سره يې وکړه فيصله په تناره

تاچې زما په ارمانونو خاورې واړولې
ما هم د عشق په کتابونو خاورې واړولې

هغه د خپل کلي رواج داسې مجبوره کړه چې
هغې په خپلو امیدونو خاورې واړولې

چا په ګلبڼ کې مړاوي ګل ته د زړه وینې ورکړې
چا په تنکیو ګلابونو خاورې واړولې

لا مې په قبر کې هر زخم وازه خوله نیولې
تاسې زما په پرهرونو خاورې واړولې

اتل دا ستا له غمه خپله شاعري پرېښوده
اتل د مینې په شعرونو خاورې واړولې

په دې کلي کې نن ولې خاموشي ده
چېرته بم خوړلې بيا د چا ځواني ده

يوې کونډې ويل دا لا څنګه ژوند دی
چې نيستي ده او نيستي ده او نيستي ده

دا کلونه چې باران نه راورېږي
خلک وايي چې دا ټوله بدنيتي ده

اوس په مينه کې شېرينه فرهاد نشته
ډېر افسوس چې اوس ياري د خره سورلي ده

ته دا څه کوې کم عقله مرګ دې هېر دی
دا به تېره شي دا څو ورځې مستي ده

دا سړی په صورت روغ په زړه رنځور دی
خو څه وکړي ژوند ناکام دی ژوند ضرور دی

نن يې بيا څوک په سرو وينو لمبولي
هله وګورئ پاچا څنګه تربور دی

دا نړۍ څه عجيبه غوندې نړۍ شوه
دلته هر انسان د بل انسان تربور دی

چې دا ستا مينه تل پټه پکې ساتم
مات زړګی مې له حالاتو نه مجبور دی

د وطن په مينه خپله دار ته خېژي
وياړه وياړه چې اتل نه دی منصور دی

یو چا ټټر باندې ویشتلی چا وژلی یمه
خو په چا ګران یمه چا زړه پورې نیولی یمه

څو تنه شته دی چې مې تل سوری په کاڼو ولي
خو چا ته بیا له خپله ځانه هم ښاغلی یمه

زه د حالاتو دې سپېرې سیلۍ سپېرو بادونو
لکه ایره ایره په هره خوا شیندلی یمه

کور دې ودان کور دې ودان زما د مینې یاره
چې کله کله دې په زړه راوربدلی یمه

ما ډیلی نه دی فتحه کړی زه اتل نه یمه
له ډېرو سختو بدو شپو نه راوتلی یمه

ګران دی په ما له ځانه ګران دی جانان
خوږ داسې خوږ لکه ایمان دی جانان

په دې سپرلي او ليوني موسم کې
چې ولې مړاوی دی خزان دی جانان

زما د ستړي او نیمګړي ژوندون
زما د خوږ زړګي درمان دی جانان

ټول د فطرت له کرشمو نه جوړ دی
ښکلا ده، مینه ده، ارمان دی جانان

بس د اتل د ترنم ژبه ده
غزل غزل رومان دی جانان

ګیله مې کېږي چې دې خپل نه کړمه ځان دې نه کړم
له خپله لاسه دې پردی کړمه جانان دې نه کړم

په هر محفل کې مې د نیمو شپو سندره کړلې
تا ټپه نه کړم د سرو شونډو یا قربان دې نه کړم

ما څه په مینه د خپل زړه په کور کې وساتلې
تا مېلمه نه کړمه د زړه کور کې ودان دې نه کړم

زویه مننه چې تر خپلې وسې وران دې کړمه
راټول دې نه کړمه ښایسته افغانستان دې نه کړم

اتل دا خپل نیمګړی ژوند و دربښلی تا ته
لوګی دې نه کړمه، له خپل ځانه قربان دې نه کړم

په زړګي مې ستا خبرې راورېږي
څه خوږې خوږې شکرې راورېږي

په دې غلې خاموشۍ او توره شپه کې
څه ټپې او څه سندرې راورېږي

کله کله مې له سترګو خپل ګرېوان ته
یو څو اوښکې ملغلرې راورېږي

په غصه کې دې همېش له سپینه مخه
سره اورونه جادوګرې راورېږي

زه بد مرغه خو د کاڼو د ویشتو یم
له پلو نه دې ګورګورې راورېږي

ځار قربان د زړګي سره څومره خوږیږي
د خپل کلي مازیګره څومره خوږیږي

ما لا یار ته د خپل زړه کیسه ونکړه
څومره ژر پریوتې لمره څومره خوږیږي

ستا هر بوټی ستا هر کاڼی ښکلومه
زما عشقه وران ګودره څومره خوږیږي

دنړۍ ټول کاینات درنه لوګی شه
پیغمبره پیغمبره څومره خوږیږي

په اتل باندې دې څنګه کوډې وکړې
ای د مینې جادوګره څومره خوږیږي

که دې حالاتو څومره دل کړم خو بدل نه شومه
په دې قیامت کې که هوښیار نه شوم پاګل نه شومه

ما څومره خلکو ته په لارو کې اغزي وشیندل
د چا اشنا نه شوم د چا دلارې مل نه شومه

په پښتنه ژبه پردۍ پردۍ سندرې بولم
ارمان چې زه د پښتون قام د خولې غزل نه شومه

د خپل وجود راټولولو فکر نشته زما
اندام اندام پروت یم چې ولې مکمل نه شومه

ما د خپل ورور په وینو تل خپلې منګولې سرې کړې
زه مشهور شومه پښتون شوم خو اتل نه شومه

اوس نو ګرځه سوال کوه په زيارتونو
خپل تيکري دې خوروه په زيارتونو

اول ما غوښتې اوس ما له خدايه غواړه
رڼې اوښکې څڅوه په زيارتونو

خدای خبر که د هجران تياري رڼا شي
سپيني شمې بلوه په زيارتونو

ما دې عشق کې څومره خاورې په سر باد کړې
په سر خاورې بادوه په زيارتونو

ما په خپلو دعاګانو کې هېر نه کړې
د اتل نوم يادوه په زيارتونو

دا ستا سپینو اننګو ته مې زړه کېږي
شرابي غوندې لېمو ته مې زړه کېږي

چې ترې وري ګلابونه پاڼې پاڼې
د سرو شونډو سرولمبو ته مې زړه کېږي

یو دیدن ته د ګودر په غاړه غاړه
هغه ټکنده غرمو ته مې زړه کېږي

چې مې هره شپه زړه پسې خوږېږي
یو څوک شته د چا لیدو ته مې زړه کېږي

زه د رځمه خپله مینه پکې ګورم
ستا دوه سترګو لېونو ته مې زړه کېږي

تاته بانې ښې دي او تاته انتظار خوږ دی
ستا له اوږدو اوږدو وعدو نه ماته دار خوږ دی

په یو دیدن پسې مې څومره ورځې وشمارلې
ستا له الفت نه ګرانې ماته ستا انکار خوږ دی

دا اوس چې هر طرف ته ځې پښه دې په کاڼو لګي
د مور دعا خوږه ده ګرانه که ازار خوږ دی

تاته به چا زموږ د کلي کیسې کړې نه وي
ښا یسته دېره ،درز د منګي، ترنګ د سېتار خوږ دی

یو چا پرون خپلو همزولو ته په ډاګه ویل
ماته اتل خوږ دی او ماته مې خپل یار خوږ دی

ما درته ټول عمر دعا کړې ده
تا راته ټول عمر ښېرا کړې ده

ته خپل وجدان ته ملامته نه يې؟
چې ما وفا او تا جفا کړې ده

هره شيبه چې ستا نامه اخلمه
دادې په ما څنګه بلا کړې ده

ګرانې هم تا رانه زړګى وړى دى
دا ناروا راسره تا کړې ده

اتل په مينه کې تاوان کړى دى
اتل چې زړه په زړه سودا کړې ده

بس دې مه کوه نور جنګ ټوپک دې مات شه
دا سپېره او دا بدرنګ ټوپک دې مات شه

تا قاتل ځومره تورسرې کړې سرتورې
ځانته ودروه لږ ننګ ټوپک دې مات شه

اوس یې هم د مور په زړه باندې ورېږي
زلمی زوی له ونې دنګ ټوپک دې مات شه

دې ټوپک بلا هډونه خاورې کړي
ستا ټوپک ونه کړو زنګ ټوپک دې مات شه

اتل ولیدې په کم عمر کې ډېري
ککرۍ په وینو رنګ ټوپک دې مات شه

په تا مین شومه خو ستا د غاړې هار نه شومه
له تا لوګی نه شومه ګرانې له تا ځار نه شومه

کافر به یم چې په سندرو عبادت کومه
زه ستا الفت بې لارې کړی یم په لار نه شومه

د ښکلو ښکلو په بې ځایه وعدو تېروتمه
څوک مې اشنا نه شو او زه د چا دلدار نه شومه

زه د ژوندون په هره لاره نفرتونه شیندم
مینه مې ونکړله مینې ته اوزګار نه شومه

اتل دا خپله ځواني ستا مخې ته کېښودله
لکه ګلاب دې تورو څڼو ته په کار نه شومه

ښه شوله چې زه درنه بې غمه شوم
ګرانه یاره ښه درنه بې غمه شوم

تاته به د صبر تیره کېږدمه
ونه ژاړې زړه درنه بې غمه شوم

تاپسې مې دوه سترګې ځلور شولې
نه دې راکاته درنه بې غمه شوم

یار مې غریبۍ پورې ښه وخندل
ویې ویل سپېره درنه بې غمه شوم

هسې هم اتل ګرانې دا ستا په زړه
نه راورېده درنه بې غمه شوم

ای د پېغلو د زړه سره وران ګودره
له حالاتو مروره وران ګودره

زمانې څنګه کانې درباندې وکړې
دا څه وشول زوروره وران ګودره

اوس به څوک په ترنم وایي
ستا د عشق خوږه سندره وران ګودره

ته چې نه یې اوس د مینې کیسې نشته
اوس هر څه دي بې اثره وران ګودره

تا شاعر کړم تا په مینه باندې پوی کړم
د اتل زړه او ځیګره وران ګودره

شپه ده، باران دی او تنهایم خوب به څنګه راشي
چې ته بې ما زه بې له تا یم خوب به څنګه راشي

ته خو بې غمه یې په سپین مړوند خوبونه کوې
زه ټوله شپه سر په سودا یم خوب به څنګه راشي

ما تمامي عمر غمونو سره شپې کړې دي
ځکه ټول عمر په ژړا یم خوب به څنګه راشي

د لیوني غوندې له ځانه سره ګوتې شمارم
نه په سبا نه په بېګا یم خوب به څنګه راشي

اتل یوازې یم په ویښه باندې شپې تېروم
ځانته د غم سندرې وایم خوب به څنګه راشي

باور دې وشه چې له زړه نه مې وتلې نه يې
((دا سې ورځ نشته دی چې ما پکې ژړلې نه يې))

ستا محبت ته مې د زړه په کور کې ځای ورکړی
خو عجيبه ده چې په سترګو مې ليدلې نه يې

بس ګرانې پرېږده تا د مينې تاو ليدلی نه دی
ته لا تر اوسه د عشق اور کله سېزلې نه يې

ته د ښکلا په غرور مسته ارمان څه پېژنې
ته د جانان مينې په زړه باندې داغلې نه يې

د اتل ټوله شاعري دې ښکلې اور پسې شي
که به اتل په هريو شعر کې ستايلې نه يې

کېنه زه تاته د خپل ستړي ژوند خبره کوم
ددې بې خونده میرات مړي ژوند خبره کوم

زړګی دې کلک ونیسه پام کوه چې ونه ژاړې
کله چې تاته د خپل کړي ژوند خبره کوم

یاره دا څه وشول دا څه کېږي او څنګه به شي؟
هسې د تېر، پاتې، نیمګړي ژوند خبره کوم

زما ګلاب ګلاب ښایست باندې یې لوبې وکړې
زه د یار نه د پوروړي ژوند خبره کوم

څومره په ګرانه یې له اوښکو سره شپې سبا کړې
د خوار اتل د اوبو وړي ژوند خبره کوم

بېګا په خوب کې مې د يار په څنګل خوب کړی دی
کافر احساس مې لړ شان خوی د ماشومتوب کړی دی

چاودلې شونډې مې د يار په اننګو ايښې وې
دې زړه کم عقل مې څه داسې لېونتوب کړی دی

بېګا شپه ستا په ياد کې ښه بې خوبه شوی يمه
ياره ته نه ګورې چې سترګو مې پړسوب کړی دی

هغې ويل چې زه د عشق په مانا نه پوهېږم
ما په لمبه لمبه مالت کې پېغلتوب کړی دی

اتل مدام بې مينې خلکو سره مينه کړې
اتل په داسې يوه چم کې مينتوب کړی دی

کـرۍ شــپه د ربـســې ژاړي ښــا پیرۍ
دا زړګــۍ تــا رانــه غــواړي ښــا پیرۍ

لکـه وربي لېـوان تـل رابانـدې بلوسـي
ســتا غمونــه مــې تــل داړي ښــا پیرۍ

ارمانونـه مـې پـه کړيکـو کړيکـو ژاړي
هـر يـو يـاد مـې زړه تـه ژبـاړي ښـا پیرۍ

ســتا د مینــې لېــونی بــه تــر قیامتــه
ســتا پــه مینـه بانـدې ویـاړي ښـا پیرۍ

خوار اتل په دې سکنې سکنې ماښام کې
ستاسې چـم نـه کـډه نغـاړي ښـا پیرۍ

په مانځه کې په نغمو کې دعا غواړي
زړه مې تاته په ښېرو کې دعا غواړي

تا پسې مې اسویلي سلګۍ سلګۍ شي
اوښکې درومي په لېمو کې دعا غواړي

ګورې نه په تا مین لېوني شوی
په خندا کې په سلګو کې دعا غواړي

ډېره ښه شوه چې نمرود نمرود زړګی دې
ابراهیم ته په لمبو کې دعا غواړي

ستا د مخ په سیپاره کې تلاوت کړم
ستا اتل په تورو شپو کې دعا غواړي

چینار، کودر، منګی د بنګړو شرنګ او ترنم
د یار له تورو سترګو سره جنګ او ترنم

ای ګوره چې راخېژي بیا په ټکنده غرمه کې
لمبه د تناره بوی د لونګ او ترنم

یادېږي دي ملګریه چې دېره وه نیمه شپه وه
لنډۍ وې یا قربان د سیتار ترنګ او ترنم

په خدای که مې دیار دا بختور عادت هېرېږي
ماښام کې په ګلپاڼو شونډو رنګ او ترنم

اتله په ایمان چې دا ساعت بلا مزه کړي
باران د ژمي شپه د جانان ثنګ او ترنم

وروستی دیدن دی وروستۍ غاړه درکومه ځمه
ستا په ګرېوان کې خپلې اوښکې څڅومه ځمه

کلی په تا ښه ښکاري کلی دې په تا ودان وي
زه مې غلبېل زړګی له ځانه سره وړمه ځمه

ما تل یوازې بې له تانه یاره ډېر ژړلي
نن دې له ځان سره په چغو ژړومه ځمه

شوخ تخیل ته سندرېزې جامې اغوندمه
احساس د مینې په شرابو لمبومه ځمه

اتل به هېر کړې خو ستا نوم د هېرولو نه دی
په هره سا کې به دې ګرانې یادومه ځمه

نن د ګودر په لاره سا اخلم دمه کومه
نن ددې وران کلي د پېغلو تماشه کومه

الله دې يو ځل په دې شين اسمان باران راولي
زه پاتې کېږم د ارمان کلي کې شپه کومه

نن به جانان په چغو چغو باندې وژړوم
نن به جانان ته زه د خپل زړګي کيسه کومه

ته راته لږه په پستو ګوتو چمبه ووهه
زه درته ګرانې يو غزل وايم ټپه کومه

اتل دې څه د بې کسۍ په غېږ کې ولوباوه
سپېره قسمته زه له تا نه دا ګيله کومه

راشه انتظار له مانه نه کېږي
مرم درپسې وار له مانه نه کېږي

نورې به نو څومره ورځې شمارمه
دا د ګوتو شمار له مانه نه کېږي

زه به ورته ټول عمر دعا کوم
زړه ښېرې ازار له ما نه نه کېږي

مخته چې منګی او پلو دواړه وړم
ګرانه به شي يار له ما نه نه کېږي

صبر کړه اتله راته ويې ويل
مينه کې تلوار له مانه نه کېږي

زه په چینار زه په ګودر زه په بنګړو مین یم
زه کلیوال شډل سړی په تورو غرو مین یم

ما ته د ښار د ښایستونو کیسې څه له کوئ
زه مې د کلي په خوږو خوږو کیسو مین یم

ما په هر ځای کې له ګلونو سره مینه کړې
زه د نرګس زه د ګلاب په اننګو مین یم

سپینې سینې ته مې ګېډۍ ګېډۍ لونګ خوښېږي
زه په نکریزو مین زه په شنو خالو مین یم

څوک چې زما لپاره سترګې په رنجو توروي
زه د هغې لپاره ځکه په رنجو مین یم

خو مره ویر دی او دا ښنګه قیامت دی
بیا نازل زما په کلي څه وحشت دی

دا چې اوښکې مې په مخ باندې بهېږی
بس ورېږي دې باران د خدای رحمت دی

پام کوه چې درنه کله خیانت نه شي
زړه مې وساته چې زړه مې امانت دی

ای دیدن راوړه دیدن ثواب دې کېږي
د ناجوړه تپوس خپله عبادت دی

ستا اتل ستا د الفت اور ورکی دی
زړه یې پاک زړه یې کعبه زړه یې جنت دی

زما ارمان زما د خوږ زړګي ټکوره یاره
زما له سترګو نه پنا د سترګو توره یاره

چې ستا تصویر کله د خیال په اینه کې وینم
درپسې وژاړمه زه په زوره زوره یاره

خوب به دې وتښتي راویښ به شې او وبه ژاړې
که ته خبر شوې لږ زما د زړه له شوره یاره

مینه کوه ګرانه پښتو کوه حیامه پرېږده
همدا سې غلې د ښو لاندې راګوره یاره

په تا اباد ستا په یادونو باندې ژوند تېروي
پام چې لاړ نه شې د اتل د زړه له کوره یاره

یـو زه یـم د یـار مینـه ده ګـودر دی مـازیګر دی
سندرې دي ټپي دي زیړی لمر دی مـازیګر دی

چې څوک وایي تنها یې زه تنهـا نـه یم ملګـرو
خوشاله یم په زړه کې مې دلبر دی مـازیګر دی

په زړه باندې مې بیـا د چـا د یـاد بـاران وربږي
نښـتر نښـتر څواني مې ده سپین غـر دی مـازیګر دی

جانانـه یـه جانانـه پـه ایمـان یـې درتـه وایـم
پـه مینـه کې دښمن مې دزړه سر دی مـازیګر دی

اتلـه تـه چې ځې د مـور دعـا ځـان سره واخلـه
پـه لویـو لویـو لارو دې سـفر دی مـازیګر دی

زما د کلي ړنګې بنګې پېغلې تا يادوي
سپرليه تا يادوي ستا مسته هوا يادوي

ما اوريدلي چې له يو زړګي نه بل ته لار وي
که زه هغه يادوم خامخا به ما يادوي

خوار مساپر په بل وطن کې د سلګو په ژبه
خدای خبر څوک په ځنکدن کې په بيا بيا يادوي

زړه ته يې کېوتمه اوس مې په بلا نه وهي
اوس مې نامه په خپله خوله بلا بلا يادوي

يوه نجلۍ د اتل نوم د اتل پټه مينه
د کور له خلکو نه همزولو ته په غلا يادوي

وخته د یار د زړه د درد کیسه مې هېره نه ده
هغه د اوښکو څڅېدو شېبه مې هېره نه ده

ښه مې په یاد دي چې په چاپسې مې ده پر وژړل
هغه د درد په غم لړلې شپه مې هېره نه ده

وروځې محراب خال یې امام کاږه بانه مقتدیان
اف د یو چا د ښکلي مخ قبله مې هېره نه ده

تا چې په سرو شونډو ګیله وکړه چې کله راځې
زه به د رځمه ګرانې ستا ګیله مې هېره نه ده

اتله بس دی نور له مینې نه توبه وباسم
توبه مې کړې په رښتیا توبه مې هېره نه ده

ژوند یو خوب دی، ژوند یو خیال دی
ژوند سپېره غوندې شمال دی

ژوند یو غم دی، ژوند یو درد دی
ژوند سکون دی، ژوند جمال دی
ژوند ثواب دی، ژوند عذاب دی
ژوند ګناه ده، ژوند وبال دی
ژوند نیستي ده، ژوند هستي ده
ژوند کمال دی، ژوند جلال دی
ژوند بدرنګه شان تابلو ده
یو رنګین د بوډۍ ټال دی
ژوند نیمګړی نیمه خوا دی
بس له شګو جوړ دېوال دی

ژوند مرګي ته هرکلی دی
ژوند اخر هم یو زوال دی

# تېپېزي

خپل ارمانونه به مې وخوري
خواره دردونه به مې وخوري
ژړا اهونه به مې وخوري
د چا غمونه به مې وخوري
د چا يادونه چې په زړه کې ګرځومه

په مورو پلار ته نازولې
پرون مې ډېره يادولې
زړه ته مې ستا کيسې کولې
زما د زړه د سرغندلې
پيدا د بل يې زړه زما درپسې چوينه

خدایه دا څه غم ته پیدا یو
دا چې ټول عمر په ژړا یو
د بېلتانه سندرې وایو
چې ما او تا سره جدا یو
په اور دې وسوځي د دواړو نصیبونه

تل مې په سترګو کې غړېږي
په خوږ زړګي مې راورېږي
په والله هر وخت مې یادېږي
زما ترې زړه کله صبرېږي
که څوک یې ټول عمر غیبت راته کوینه

که مې نیستي نه وي دلبره
که بې وسي نه وي دلبره
سخته خواري نه وي دلبره
که مجبوري نه وي دلبره
د زړګي سره درسره به ګرځېدمه

ډېره وېرېږم له پېغوره
د لېونۍ مینې له توره
بهر وتی نه شم له کوره
زما د دوارو سترګو توره
په زوره زوره ژړا تا پسې کومه

ستا محبت ذرې ذرې کړم
په ژوند دې زه خاورې ايرې کړم
داسې دې ولې بې اسرې کړم
دزړه له درد درته ښېرې کړم
که نه ښېرې مې په تا کله پېرزو شينه

ارمانه ته چې رانه لاړې
نادانه ته چې رانه لاړې
يه ګرانه ته چې رانه لاړې
جانانه ته چې رانه لاړې
زه به د مينې کيسې چا سره کومه

خط را لیږه راته یاد یږي
په توره شپه راته یاد یږي
یمه خپه راته یاد یږي
هره شیبه راته یاد یږي
مسا پري په غم لړلې تیرومه

عشق محبت درسره کیده
دا عبادت درسره کیده
سم سلامت درسره کیده
زړه امانت درسره کیده
ګرانه جانانه چې پرې ونه کړې ظلمونه

سپېره تندي را باندې وکړل
خپل او پردي را باندې وکړل
عشق لېوني را باندې وکړل
دې خپل زړګي را باندې وکړل
ځکه په لپو لپو اوښکې تویومه

سوځم د مینې په انګار کې
له تا لوګی له تا مې ځار کې
تا ته ولاړه یم په لار کې
جانانه ستا په انتظار کې
ستورو ته ګورم شپه سبا را باندې شینه

له بدې ورځې امان راکړې
دې زخمي زړه ته درمان راکړې
د ګل په شانې انسان راکړې
خدایه د مینې جانان راکړې
چې په تقسیم راسره وویشي غمونه

چې غړ زما او غزل ستا وي
په مخ خور شوی اوربل ستاوي
دا غمځپلی اتل ستا وي
چې سر زما وي ثنګل ستا وي
مزه به دا وي چې اوده د عمر شمه

د ماشومتوب هېرجنې ورځې
د تنهايۍ ويرجنې ورځې
د مينتوب غمجنې ورځې
د پشكال تپجنې ورځې
څانګه د تور كميس لمن ځانته وهينه

په تور ماښام يې كډې بار كړې
خدايه دا نن شپه يې ايسار كړې
سترګې مړې مې په ديدار كړې
ما د كونړ له سينده ځار كړې
زما جانان به پكې مخ وينځلی وينه

شوم د یار مینه کې راګېره
مینه کوم له حده ډېره
یمه له خپله سره تېره
مینې پښتو کړه رانه هېره
یار ته مې هر وختې سر ټیټ نیولی وینه

ډېر ناکرار یمه چې نه یې
له خدایه غواړمه چې ښه یې
زما ځیګر یې زما زړه یې
په خدای پسې مې زړه کې ته یې
که سجده دواړو ته کوم کافر به شمه

بلا زړګي په تا مين دي
ډېر ليوني په تا مين دي
يو څو زلمي په تا مين دي
دا شنه بنګړي په تا مين دي
چې ته ويده يې اننګي دې ښکلوينه

څه عجيبه غونډې ياري وه
مينه دې ټوله ساعت تيري وه
وغولېدم عبث خواري وه
ستا يارانه د خره سورلي وه
څوک چې د خره سورلي کوي لتې به خورينه

ته خو زما د زړګي سر يې
زما اشنا زما دلبر يې
د خوږې مينې جاودګر يې
له مانه ولې مرور يې
کم عقله ياره په پردي اختيار کې يمه

بيا شوه ګرمي لوونه ګډ شول
په هر پټي لوونه ګډ شول
څه ليوني لوونه ګډ شول
د پسرلي لوونه ګډ شول
نجلۍ په سرو منګلو وږي ټولوينه

نازولتوب کې خولګۍ وا خله
په مينتوب کې خولګۍ وا خله
په لېونتوب کې خولګۍ وا خله
له مانه خوب کې خولګۍ وا خله
له پېغلتوبه ارماني راغلې يمه

له خپلې مينې دې ازاد کړم
څه دې په غيره کې اباد کړم
اوس به نو خاورې په سر باد کړم
جانانه څنګه دې برباد کړم
د خپل زړګي وينې مې وړې ما ډوبوينه

راغلې له جنګ توره دې راوړه
په یوه درنګ توره دې راوړه
اخلې قلنګ توره دې راوړه
په وینو رنګ توره دې راوړه
راشه په سرو شونډو یې زه در پاکومه

باران سیلۍ ته شه خوله واخله
لړ دې بلۍ ته شه خوله واخله
سم کوټنۍ ته شه خوله واخله
سپینې سپوږمۍ ته شه خوله واخله
د کــــــــلا سیوري ته مې مه بیایه ډارنه

جانانه ستا په مینه ویاړم
کلی پرېږده مه درنه لاړم
ټولې کیسې به زړه ته ژباړم
دا پټ مین یم پټ به ژاړم
پټې به اوښکې په ګرېوان کې تویومه

د بېلتانه اورونه ډېر دي
دا ستا یادونه رانه هېر دي
غمونه ټول رانه چاپېر دي
اوس که راځي وختونه تېر دي
زما د مخ خالونه اوښکو وړي دینه

ښایسته ځواني مې له تا ځار شه
راشه زما د غاړې هار شه
زما زړګیه زما یار شه
جانانه مه ځه نن ایسار شه
ستا د راتلو مې خدای ته ډېر کړي سوالونه

ژاړم وهم درپسې کوکې
ولې کوې مې له زړه شوکې
مه لنډوه د زلفو څوکې
اوربل دې ما خور که ملوکې
د کنډوګي سیلۍ به ځان بدنامو ینه

ځان جوړوي د چا لپاره
بیا د چا مرګ ته شوه تیاره
لېونۍ زه کړم ناکاره
په پټو زړونو خبرداره
پروردګاره لېونی ورپسې شومه

زړه مې نرۍ نرۍ خوربږي
بیا لېونۍ راته یادېږي
هغه به ما پسې ژړېږي
صبر کوه که درنه کېږي
د صابرانو سره خدای ملګری وینه

ما ته له هر څه نه حسین یې
خیر دی که تور یې لونګین یې
زما د زړه په زمکه شین یې
چا ته به تور چا ته به سپین یې
ما ته د زړو کتوری ښکارې مینه

په تا مین به دې په دار شي
ژوند زندګي به یې انکار شي
که دا ستا نه شي د بل یار شي
کله دې غم را باندې بار شي
کله دې مینه په درنو کاڼو تلمه

ته دې بلېږې لکه شمه
زه به سوځېږم ستا له غمه
نفرت دې ډېر مينه دې کمه
زما له عمر سره سمه
ميرات شې غمه په خندا دې تېرومه

له خپله لاسه دې پردی کړم
نه دې اشنا نه دې لالی کړم
نه دې خپل ځانته سپېلنی کړم
مينې دې داسې لېونی کړم
که زه الله وايم ليلا خولې ته راځينه

ډېر احترام دې په هغو وي
درود مدام دې په هغو وي
سحر ماښام دې په هغو وي
زما سلام دې په هغو وي
چې د ماښام ډوډۍ له اوښکو سره خورينه

زړه مې دا ستا کلي کې بند دی
عشق مې تا ته ښه ښکاره ښه څرګند دی
په الله پاک مې دا سوګند دی
ژوند راته ستا په سترګو ژوند دی
ته چې ترې لاړې ژوند دې تورې خاورې شينه

اوس رانه پاتې کلی کور دی
نور مې اوبه د زړګي زور دی
ژوندون مې بې له یاره اور دی
رنګ چې مې تور لکه د سکور دی
زه بـــــه جانان ته په غرمو ولاړه ومه

چې د نارنج په شان زېړېږم
په خوږ اشنا پسې کړېږم
یو ورځ به مرمه نه رغېږم
پرېږده چې شپه ورځې ژړېږم
په کبرجن جانان به ډېره نازېدمه

ګرانه غمونه به دې ډېر وي
زما يادونه به دې هېر وي
چې مات زړګی به دې کوشېر وي؟
ارمان به وکړې وخت به تېر وي
بيا به جهان را پسې ګورې نه به يمه

ياره دا څنګه غريبي ده
په بل وطن کې مزدوري ده
جانانه تاته مې زاري ده
مساپري سخته خواري ده
راځه راځه روزي به خدای رارسوينه

د کلي دنګ چينار ته وايه
د مينې سره انګار ته وايه
هاغه د زړه کرار ته وايه
زما بې غمه يار ته وايه
ته بې پروا يې زه دې مړ له غمه شومه

خلک خپه دي واړه ژاړي
ځوک په تنور ولاړه ژاړي
هغه له کلي لاړه ژاړي
اسمان او زمکه دواړه ژاړي
چې يو اشنا له بل نه اخلي رخصتونه

ځو مره ترخه راته حالات شول
ګرانه غمونه مې ډېر زيات شول
ټول ارمانونه مې ميرات شول
بنګړي مې ستا په کټ کې مات شول
که نارينه يې اوس را ډک که مړوندونه

منم چې مينه کې ثواب وي
خو جدايي پکې عذاب وي
زړه به دې تل کباب کباب وي
يا به زما نصيب خراب وي
يا به دا ټولې يارانې دغسې وينه

زما به خاورې تل په سر وي
چې په ما غم په ده اختر وي
خدایه تر څو به دا محشر وي
الف الله به ترې خبر وي
چې د جانان مینه به چا چا سره وینه

د زړه قرار نه پیدا کېږي
ښه وفادار نه پیدا کېږي
په یو دیار نه پیدا کېږي
غمشریک یار نه پیدا کېږي
د خوشالۍ یاران چاپېره رانه دینه

یه جینۍ وخېژه ناري که
لېونۍ وخېژه ناري که
ګل غوټۍ وخېژه ناري که
په بلۍ وخېژه ناري که
چې د ترلې او تربور نه کېږي کورونه

که مرور يې که پخلا يې
زما د لبر زما اشنا يې
زه به دا ستايم ته زما يې
د سر له سترګو مې پنا يې
د زړه په سترګو دې هر وخت ديدن کومه

شونډې مې سرې سترګې مې تورې
جانانه راشه که مې ګورې
زما په زړه باندې را ورې
په زړه مې ته بانې مې نورې
کلي کې ګرځم ماشومان کراروه

په ما امبار د چا غمونه
کوم په شپو کې شوګیرونه
راباندې ډېر کوي ظلمونه
په زړه مې ډېر دي ارمانونه
پوره به نه شي زه به تورې خاورې شمه

هغه له ځانه ورته ګران دی
د زړګي کور يې پرې ودان دی
بس په رښتيا چې يې جانان دی
څه په شېبو شېبو باران دی
جينۍ پا يځي پورته کوي يار له ورځينه

زما په سترګو کې غړېږي
ډېر مې دا زړه پسې خوږېږي
خاونده خدايه څه به کېږي
ليدلی يار د چا هېرېږي
کورونه يې وران شه چې په ما يې هيروينه

پردۍ کیسې مې درته وکړې
بس دی نور مه کوه داخه کړې
دا خپل زړګی به دې اوبه کړې
ما درته ویل پوره به یې نکړې
د یارانې خبرې ګرانې دي مینه

زما په مړینه لېونۍ شوې
په ما خوره ځولۍ ځولۍ شوې
ارمان دی کونډه په ځوانۍ شوې
په زړه مې خاورې کوټنۍ شوې
اغزي پرې شنه شول اوس مې خوب ته نه پرېږدینه

زما دې سوې رنګ ته ګورې
رنګ مې سپېره شونډې مې سپورې
بس دی ښېرې مه کوه نورې
په سپېرو بد مه وایه مورې
سپېرې دي خاورې چې ګلونه شنه کوینه

ځه له دې کلي له دې ځایه
د مینې لاره ورته ښایه
یار دې د مینې چم ته بیایه
پر ګلاب ناست بورا ته وایه
ګلونه ژر ژر بویوه خزان راځینه

ستا په نکریزو سرې منګولې
څه ښې کیسې به دې کولې
زما زړګي ته وې منلې
اول به مونږ کره راتللې
اوس په پلو مخ پټوې چې پېغله شو مه

په لویه لارکې درته ناست یم
په سره انګار کې درته ناست کې یم
له تا مې ځار کې درته ناست یم
په انتظار کې درته ناست یم
ستا د شیرینې خولې به څه جواب راځینه

ګودر ته مه راځه بې وخته
نن دې په ځان که بیا ناوخته
ژاړمه ستا له سپېره بخته
څنګه نرۍ یې لکه لښته
مور دې ړنده شه چې په تا اوبه راوړینه

ما ته د مینې خوږ کتاب یې
اشنا زما د غېږ رباب یې
په بېلتانه کې لوی عذاب یې
څنګه تنکۍ لکه ګلاب یې
مور دې ړنده شه چې سفر ته دې لېږینه

د مازیګر خوږې شپېې وې
باران و زلفې دې لمدې وې
زما په خوله باندې ټپې وې
پرون لا دا مالې دلې وې
نن به دې تورې زلفې چرته باد وهینه

که په مانځه توبې وباسم
که سم له زړه توبې وباسم
او له تا زه توبې وباسم
که زه په خوله توبې وباسم
په تا مین زړه مې توبې نه قبلوینه

تا چې خور کړی تور اوربل دی
ښکاري راغلی مې اجل دی
خو ځه الله را سره مل دی
په زړه مې اور د ګرګو بل دی
د اسویلو په ځای سکروټې غورځومه

مخ دې سپوږمۍ خالونه ستوري
رسا وژل کوي سرزوري
سترګې لمدې شونډې دې ښوري
بانه دې مړه دي ښکته ګوري
لکه چې مور دې نوره کور کې بندوینه

مینان مینې ته اوزګار وي
مینه یې ژوند مینه یې کار وي
بس مړه خوړ وي یار خو یار وي
له یو زړګي نه بل ته لار وي
چې زما خوښ یې ستا به ولې بدې شمه

د زړه خواله را سره وکه
مینه له زړه را سره وکه
دا نیکي ته را سره وکه
په ژوندون ښه را سره وکه
په اخرت کې د هر چا بېل دي کورونه

یاره ته څه شولې زه دایم
د خپل زړګي کور ته دې بیایم
ټولې خبرې درته وایم
د مینې چل به درته ښایم
د صبرېدو چل به له تانه زده کومه

خدایه ما واخلې ما سپېره کړې
ځوانه ځوانۍ کې مې ایره کړې
یو ناڅاپي مرګ مې مېلمه کړې
په تورو سترګو مې ړنده کړې
چې جانان نشته زه یې ولې تورومه

خواري د سيال سړي مزه کړي
زاري د سيال سړي مزه کړي
دوستي د سيال سړي مزه کړي
ياري د سيال سړي مزه کړي
ځان ته به ګوري ستا به ډېر قدر کوينه

فغان به ډېر راپسې وکړي
ګيريان به ډېر راپسې وکړي
سوران به ډېر راپسې وکړي
ارمان به ډېر راپسې وکړي
بغير له ما به ژوند مزه نه درکوينه

زما په برخه چې ژړا ده
هغه له مانه بې پروا ده
عاشقي څه بده بلا ده
دا ګناه ستا نه ده زما ده
په خپله خوښه مې زړګی درکړی ونه

په ما مینه ښاپېرۍ وه
یوه حسینه شان جینۍ وه
زما د مینې لېونۍ وه
اول یاري یې په زارۍ وه
اوس یې راځي په غم لړلي ځوابونه

زما ارمان چې ما سره وي
د زړه درمان چې ما سره وي
ها په ما ګران چې ما سره وي
زما جانان چې ما سره وي
په ما دې کاڼي د صحرا راچلوينه

يار ته به چا کړی ازار وي
دا به د کوم ناترسه کار وي
چې به ملګری که اغيار وي
يابه جانان په نصيب خوار وي
يا به کړاو زما په برخه باندې وينه

ډېر په هيبت کې به ناري کړم
په سخت ساعت کې به ناري کړم
ورځ د قيامت کې به ناري کړم
په اخرت کې به ناري کړم
زه له دنيا نه ارمانجن راغلی يمه

جينۍ له شاتو نه خوږه ده
ښکلا يې لويه سرمايه ده
يوه بوسه يې سر سايه ده
د جانان غم زما سايه ده
چې چرته ځم زما نه مخکې وروسته ځينه

د اننګو بلا دې واخلم
سترګو لېمو بلا دې واخلم
د شونډو سرو بلا دې واخلم
د پیچکو بلا دې واخلم
د لوپتې بلا دې مور واخله مینه

علاج مې مه کوه طبیبه
ژوند مې روان دی بې ترتیبه
مرګه راځه راشه قریبه
ورک شې زما بده نصیبه
چې ګل کرمه مارکونډۍ ترې ټولومه

څه په خوارۍ ارمان پوره شو
د ښاپېرۍ ارمان پوره شو
د دې جینۍ ارمان پوره شو
دلبونۍ ارمان پوره شو
په لاره ځي په کاڼو ولي زیارتونه

زندګي نه ده شوا خون دی
چې تمامي عمر بېلتون دی
ښه دی چې زړه مې د پښتون دی
په غم لړلی مې ژوندون دی
په کټ کې پروت یم مرګ ته شپې سبا کومه

چې دې یادونه را په زړه شي
شمه خوشاله زړه مې ښه شي
کله مې اوښکې په لېمه شي
دا به زما نه پوره نه شي
چې یو منګی وړم بل پلو مخې ته وړمه

په دا سې ورځ مه خپه کېږئ
ملګرو یو له بل ځاربږئ
نن مو ښادي ده خوشالېږئ
لستوني وباسئ ګډېږئ
دا سې ساعت په خوارو کله کله وینه

ته د رشتې لایق مې نه یې
کوم ښېرې لایق مې نه یې
د سپینې خولې لایق مې نه یې
د یارانې لایق مې نه یې
نصیب تقدیر مې درته پښو کې غورځوینه

دعا کومه ستا لپاره
زما د خوږ زړګي قراره
الله دې ساته له ازاره
هېر به مې نه شې خپله یاره
که د اسمان تر ستورو ډېر تېر شي کلونه

په زړه غمجن شي وطن پرېږدي
چې لوغړن شي وطن پرېږدي
د بر اند ښمن شي وطن پرېږدي
هلک مین شي وطن پرېږدي
جلۍ مینه شي مخ پټ کړي وژاړینه

د زړه په کور کې مې اباد یې
ګرانه په مینه کې استاد یې
ته دې ټول عمر زنده باد یې
هره شېبه راته په یاد یې
د خدای دې هېره شم چې تا به هېرومه

ځولۍ ځولۍ مینه دې نشته
سپینې سپوږمۍ مینه دې نشته
یه لېونۍ مینه دې نشته
ها پخوانۍ مینه دې نشته
یا دې زړه تور دی یا دې کلی لمسوینه

چې مې زړګی قلم قلم دی
زما په خونه جوړ ماتم دی
هر خوا چاودنې دي او بم دی
یا خو یوازې په ما غم دی
یا په تمام جهان بلېږي سره اورونه

عشقه ثواب يې که وبال يې
زما د ژوند د حيا شال يې
زما پښتو زما جلال يې
ته به د کوم محفل مشال يې
زه دې تصوير په تصور کې جوړومه

يو خوا خندا ده نيمه شپه ده
بل خوا ژړا ده نيمه شپه ده
د زړه درزا ده نيمه شپه ده
د سپو غپا ده نيمه شپه ده
يار به زمونږ کلي ته بيا راغلی وينه

زما د دواړو سترګو توره
زه دې سېزلې يم بې اوره
زما د خوږ زړګي ټکوره
که دیدن غواړې ما ته ګوره
زه به ډوډۍ په تناره وځنډومه

سوې ښېرې مې درپسې شه
ژوند دې برباد خاورې ايرې شه
په تن دې بلې سرې لمبې شه
لوړې بنګلې دې کنډوالې شه
زما ياد ېږي د کېږديو شمالونه

خیر دی که زه په کې اسیر وم
یا چا ترلی په ځنځیر وم
که څو مره خوار و مه حقیر وم
وطن کشمیر زه یې امیر وم
نیستۍ فقیر کړم در په در غواړم خیرونه

د زړه له شوره ورته وایه
ډک له پیغوره ورته وایه
مه شې سرتوره ورته وایه
ورشه په زوره ورته وایه
هلک مین دی اوس به ورک د ملکه شینه

له جینکو نه با خبره
مزې دې وکړې زوروره
چې تل تاو برېږې له ګودره
وه سوداګره بختوره
چې ملغلرې خرڅوې شمارې خالونه

ته به د چا لارو ته ګورې
د خپل اشنا لارو ته ګورې
ډېر په بیا بیا لارو ته ګورې
بیا به زما لارو ته ګورې
ما به توبه ستا له یارۍ ویستلې وینه

ارمان پوره مې د ډولۍ کړې
يا مې ټپه د ملالۍ کړې
او يا مې سمه لېونۍ کړې
ما د اسمان سپينه سپوږمۍ کړې
چې د جانان په سينه پشم ورومه

اې د خوږې مينې استاده
زما په زړه کې تل اباده
زه دې په څه کړم نا مراده
ماته په هر ساعت کې ياده
د غم له باده دې خدای تل ساته مينه